
۲۵ اکتوبر ۲۰۱۱

## مخکښ شهید


لیکنه: لوچیاپن
ژباړه: فرهاد ویاړ


دریمه برخه



د هغه ځای د ګوندي ناحیي سرپرست، کاکا یو، یو متقاعد پوځي وو. هغه به اکثراً ماشومانو ته له جګړې او انقلاب څخه داستانونه ویل.



د ليوون ـ هسو د مبارزو او زړرو کسانو داستانونه ډير زيات خوښيدل، لکه: د هوانګ چي – کوانګ داستان چې څرنګه نوموړي خپل ځان د دښمن د ټوپک په ماشه واچو؛ د تونګ تسون - جو داستان چې څنګه يې د دښمن د جبهې په منفجرولو سره ځان هم قرباني کړ او همدا ډول د ليوهو- لان داستان چې دښمن ته د تسليمدو پر ځای يې ترجيح ورکړه ځان قربان کړي.

ليوون ـ هسو د دې داستانونو څخه د اتلوالۍ او ميړانې درس زده کاوه.






د آزادۍ ښځه مخکې ژوند له کړاونو ډک وو، خو اوس د خوشالۍ روزګار راغلی وو. هر څومره چې به د هسو په تن کې د وطن او ولس سره مینه او شوق زیاتیده، په هماغه اندازه به یې له اربابانو سره کرکه پیدا کوله. یوه ورځ یې د خپلو ورځني یادونو په یوې پاڼې کې داسې ولیکل: «زمونږ د هیواد هر ماشوم ښایي د ولسونو د خدمت لپاره قدم پورته کړي.»



په ۱۹۸۵ کال کې کله چې په کليو کې ولسي ټولنې جوړې شوې، ليوون هسو د دې ټولنو له غړو سره اوږه په اوږه په توليدي کارونو کې فعاله رول ولوبو.
يوه ورځ کله چې هغه په کروندې کې کار کاوه، وې ليدل چې ارباب په کرونده کې ګټې اچوي او غواړي چې کرونده خرابه کړي.



لیوون - هسو ارباب د ګوند ناحیه ای چارواکي ته له ځان سره بوتو او ارباب هلته په خپلې خرابکارۍ اقرار وکړ.



د ګوند ناحیه ای چارواکي، د لیوون ـ هسو د کار ستاینه وکړه:
ـ لیوون ـ هسو، ډیر ښه کار دې وکړ. مونږ باید ټل د ولسي ټولنو له ګټو څخه ملاتړ وکړو!




کله چې په ولسي کرونده کې بوټو مرچ وکړل، لیوون ـ هسو د ولسي ټولنې له نورو غړو سره یوه غرمه د مرچو د شکولو لپاره ولاړ، چې سبا وختي یې بازار ته د خرڅ لپاره ویسي.



کله چې د ټولنې غړي د مرچو په شکولو بوخت ول، ارباب واګ د مرچو هغې خوا کروندې ته لاړ.



لیوون - هسو په خوښۍ او ښادۍ سره ټوکرۍ یو په بل پسې له مرچو ډکولې چې د ګوند ناحیه ای چارواکي ورته وویل: مور دې تا ته په تمه ده او ښه به دا  وي چې کور ته ستون شی او له هغې سره مرسته وکړی.



لیوون - هسو د کور لاره ونیوله او په داسې حال کې چې ټول فکر یې مور ته اوښتي وو، لږ څه نور یې هم خپل قدمونه تیز کړل.